چمتو والي کچه

# زما مور چېرته ده؟

storyweaver PRATHAM BOOKS

التعليم فوق الجميع | education above all



**ليکوال:** هيمالاتا کاناګالينګام
**انځورګر:** آر. سي. پرديپ کمار

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د مرغۍ بچی راویښېږي.



مور ۑ نشته دی!



بچی د خپلې مور په لته
کې د الوتلو هڅه کوي.



***اوه نا!***
هغه لا الوتلې نه شي.



""آیا ته زما مور یې؟ "، هغه کارغه نه پوښتنه کوي.

***""کاغ! کاغ!*** زه نه یم! " کارغه وايي.



د مرغۍ بچی له چرګۍ څخه پوښتنه کوي، ""آیا ته زما
مور يې ؟ "

""***کوکوروکو-کو!*** زه نه یم! " چرګه وايي.




“”آیا ته زما مورې يې؟ “ د مرغۍ بچی له هیلۍ نه پوښتنه کوي.

“”***قاق! قاق!*** زه نه یم! “ هیلۍ وايي.



که زه خپلې مور پسې په لوړ غږ غږونه وکړم، هغه به زما غږ واېي، بچی فکر کوي.

***""چووو! چووو! چووو! چووو! "***



مور د بچي غبږ اوري او په الوتلو سره سره راځي.



هغوی یوځای په خوښۍ
سره په فضا کې الوځي.

***بخ! بخ!***

## لاربښودونکې پوښتنې

1. د قیصې تصویرونو ته وګورئ، کوم ځاروي تاسو وینئ؟ کوم کولای شي چې والوزي او کوم نشي کولای چې والوزي؟ ستاسو د خوښې ځاروی کوم دی؟
2. کله چې د مرغۍ بچی راویښ شي څه فکر کوي؟ او ولې؟
3. کارغه، چرګه، هیلۍ او د مرغۍ بچان کوم غړونه لري؟ آیا د نورو ځارویو غړونه پیژنئ؟
4. څنګه یوه مرغۍ خپل بچان پیژني؟ تشریح یې کړئ.
5. که چیرې تاسو د مرغۍ د بچانو پر ځای وئ، څه به مو کړي ول؟